مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۲/۱۱/۱۸

«هیڅوک د چا له غمه نه مري»

خبر دی چې مسلمان هیواد قطر، سږ کال د فوټبال د نړیوال جام سیالیو کوربه دی.

قطري شیوخو د دې کوربتوب په هوس کې ۲۲۰ میلیارده ډالر لګولي.

زموږ د مسلمان هیواد د ۲۰۲۰ کال ټوله بودجه (عادي - انکشافي) ۵،۵ میلیارده ډالر وه. دا د تېلو په چینو د مستو شیخانو د فوټبال د کوربتوب د لګښت ایله (۲،٤) سلنه جوړوي.

که دا شیوخ د خپل هوس له آس راښکته شوي وای، نو په دې څو ورځني لګښت یې زموږ د مسلمان وطن دایمي څهره بدلولی شوه. یو مسلمان ولس یې د کفارو له احتیاجه ژغورلی شو. د میلیونونو وږو ګیډې یې د کاري فرصتونو په پیدا کولو مړولی شوې. د زرګونو هغو ځوانانو د فرار مخه یې نیولی شوه چې په خونړیو لارو درومي او بیا ځینې یې د سمندري ژوو اذوقه شي.

خو قطر او بل هیڅ هیواد به زموږ فقر او ولږې ختمولو ته په خپلې لنډ مهالې ساعتیرۍ او هوسبازۍ لومړیتوب ورنکړي.

کیسه دا ده چې په اوسني وخت او اوسنیو مسلمانانو کې د امت مسلمه، اخوت، عالمي برادري او... شعارونه هسې خیالبافیانې دي او غریبو ولسونو ته فریب ورکول دي.

اصلي خبره دا ده چې:

"هیڅوک د چا له غمه نه مري
شیرینه یاره چا دروغ ویلي دینه"

واقعیت دا دی چې هرڅوک که په هر ډول حالت کې وي، د خپلو ستونزو د هواریو په خپله مسوول دي.

د همدې واقعیت ژور درک په کار دی.

یو بل ته د مینې لاس غځول او یو بل منل په کار دي،

د هر یو له کاري وړتیاو په خپل ځای کې کار اخیستل په کار دي،

د نړدې او لرې پردیو له احتیاجه د خپل ولس او وطن ژغورل په کار دي،

او...

بېشکه چې همدا اصلي میړانه، غیرت او شهامت دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ